لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۸/۱۲/۰۸

# موږ په افغانستان کې مات شوي يو

جرمني په افغانستان کي پاتي راغلی، په پوځي او همدارنګه د پرمختيايي مرستو په ډګرونو کي ناکام شوي دی. که څه هم د پوځونو او د جديت کمښت شتون نه درلود

يوه الماني څېړنيزه خبريال له جلال اباد څخه د افغانستان د جګړې په اړه يوه سياسي تبصره ليکلي

سرچينه: د جرمني څيد انلاين وييپاڼه

ليکوال او شناند: ولفګنګ به ور، ژباړن : سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

په افغانستان کې خونړۍ جګړه، دا جګړه د جرمني فدرالي حکومت له لوري له ډيرو کالونو راهيسې (د افغانستان خونړۍ جګړه) په نوم نه نومول کيده، بلکې دا جګړه به په نورو لغاتونو کې لکه د ثبات تينګښت ماموريت تر نامه لاندې پټيده. خو اصلاً موږ دا جګړه له ډيرې پخوا راهيسي بايللي ده. وسمهال له دې ورسته د طالبانو په وړاندې د برې هيڅ چانس يا تمه نور نشته، د جرمني د بهرنی سياست سياستوال له يوه ډير شرمنونکي لغت څخه کار اخلي. دا لغت د نورو لغاتونو څخه لا انديښمنوونکی بريښي، هغه د ماتي لغت دی.

د ۱۹۴۵ کال راهيسي جرمنان مجبوره وو، د دغې لغات له کارولو او ويلو څخه ډډه وکړي.

جرمنی خبريال د جګړو د ډګرونو څخه ليکي، موږ په افغانستان کې ختم شوي يو، موږ د خپلو پوځي او ملکي پلانونه سره ختم شوي يو، موږ د خپل صبر او زغم سره ختم يو. د فدرالي المان شپږو حکومتونو په پر له پسي توګه بې پايلې د طالبانو په وړاندې جګړه کې ونښليدل او هڅه دا وه، څو يو ولسواکه دولت رامنځته کړي. خو د ناوړو پايلو سره مخامخ شول. دا جګړه د هندو کوښښ په غرونو کې د دواړو نړيوالو جګړو له مودې څخه اوږده شوي ده. دا جګړه اوس اوولسم کال ته ورننوځي. د جګړې په دواړو غاړو کې يو سل پنځوس زره کسان ووژل شوي دي. طالبانو د دې هيواد ستره برخه تر خپل کنترول لاندې راوستي ده. د لويديځ له ملاتړ برخمن حکومت د څو مختلفو اړخونو څخه رامنځته شوي دی. دوی په خپلو کې سره خوري او د فساد په ګنده دنده کې دوبيږي. د مافيايي کړي مشرانو او جنګسالارانو د ولسي جرګې ستره برخه په خپل کنترول کې راوستي. داعيش هڅه کوي په دې ګډوډۍ کې ځانته ځای ومومي، ايران هڅه کوي، ځانته ځای ومومي او پاکستان ځان په افغانستان کې بيا پياوړي کړي دی. د افغانستان اسلامي دولت يواځي په سترو ښارونو کې شتون لري او هلته هم د ړنګيدو په حال کې ليدل کيږي.

په داسې يو حالت کې د محمد اشرف غني حکومت څومره د مايوسی له ناوړه وضعيت سره مخامخ دی. ثبوت يې په تيره اوونی کې د طالبانو سره پرته له مخکنی شرطونو اينبودلو سره د سولې او روغې جوړې خبرو اترو وړانديز دی. تر دې دمه هغه دا ډول مذاکرات په کلکه ردولو. دا هم ناشوني بريښي چې طالبان به دا وړانديزونه ومني او يا مثبت ځواب به ورکړي: ځکه ټايم د طالبانو په لوري ورځرخي.

څيړنيز خبريال ليکي، زه دغه کرښې د دريو مترو جګو ديوالو تر شا ليکم، دا ديوالونه پر اغزن سيمونو پوښلي شوي دي. زه همدا اوس د ننګرهار ولايت مرکز جلال اباد کې د يو سياسي چارواکي په شخصي کور کې د ديرشو سرتېرو

له لوري ساتل کيږم. په دغه ولايت کې حکومت د ۲۲ ولسواليو څخه يوازې څلور په خپل کنترول کې لري. په ښار کې تقريباً هره ورځ وژني او چاودني تر سره کيږي. څو ورځې مخکې ځانمرګي بريدګرو د ماشومانو د ژغورني پر دفتر ځانمرګي بريد تر سره کړو. ما په خپله د ځانمرګي د وجود د غوښې ټوټې وليدې، کومې چې د هغې بمې چاودنې پر سرک شيندلې وې. ما وليدل چې پوليسو او پوځيانو په ساعتونو په دې هڅه کې بوخت وه، څو د يوې انجيو ۴۱ کسه بند پاتې کارکونکې وژغوري. دوی له سختو روحې ټپونو سره راوېستل شول، دوی په وينو او ګردونو کې پوښلې وه.

د طالبانو له پرځيدو را ورسته هيڅ مهال د دې هيواد حالات دومره خراب شوي نه وه، لکه وسمهال. د پلازمينې کابل امنيت هم ورسره ډير خراب شوي دی.امريکايي پوځيان پر سرکونو نشي ګرځيدی. امريکايان د خپل کمزوري محتاجه دولت په مرکز کې د هوا له لارې له يو ځاې څخه بل ځاي ته حرکت کوي. دوی په ښار کې خپلو موخو ته د يو شمير ځانګړو چورلکي لخوا له يوې سيمي څخه بلې ته ليږدول کيږي.

له کلونو راهيسې امريکايان په دې هيواد کې بې موخې سرګردانه اخوا ديخوا ګرځي. دوی په لنډ مهال کې په ميلياردونو ډالر افغانستان ته ورپمپ کړل او په لنډ وخت کې بيرته را ټولوي. دوی يو مصنوعی اقتصاد رامنځته کړی، که اوس يې پريږدي له منځه به ولاړ شي يا سقوط سره به مخامخ شي. دوی له يو لوی لښکر سره جګړې ته راغلي دي، څو دوی په څو مياشتو کې بيرته ستانه شي. ټرمپ غواړي د داعيش سره په افغانستان کې جګړه وکړي. خو په دې برخه کې د ده له حکومت سره هيڅ ډول طرحه نشته.

د جرمني هيواد ډيپلوماسی اغيز په دې برخه کې د هر کله په پرتله خورا لږ بريښي. د مې په مياشت کې د جرمني سفارت ودانی د يوې چاودنې په طرځ کې ويجاړه شوه. اوس په دې هيواد کې يوازې پينځه ډيپلوماتان پاتې دي، دوی د امريکا په سفارت کې ځانونه ساتي. تقريبا د دوی ټولې د بيارغونې منابع د سفارت د دوداني له ودانولو سره تړلي شوي پاتې دي. په افغانستان کې د جرمني ډيپلوماسی د يو سياسی ځواک په توګه پر سفارت د بريد راهيسې په ريښتينه مانا بالکل له منځه تللي يا په ټپه دريدلي ده.

د ۲۰۰۱ کال راهيسې د جرمني وسله وال پوځې ته د ثبات راوستو ماموريت لپاره لس ميلیارده يورو وربيدلي دي. په حساسو وختونو کې د جرمني شپاړلس زره پوځيانو شتون درلودل، وسمهال په افغانستان کې ۹۸۰ سرتيرې پاتې دي. د المان وسله وال پوځ په کندوز کې يوازې يو وار د نيم کال لپاره وجنګيدو. په جګړه کې د دوی جګړييز قابليت او وړتيا ډير لږه ثابته شوه. امريکايي پوځيانو ژر تر ژره د دوی ځای بدل کړو. افغان سياستوال پر جرمني پوځيانو توکي يا ريشخندوهي، دوی وايي لکه چې د جرمنانو څخه جګړه هيره شوي وي.

الماني قوماندانان د هيواد امنيت په پرتله د خپلو سرتيرو امنيت ته ډير اهميت ورکوي. د برلين څخه همدا ډول امر دوی ته د مارش پر مهال شوي دی. په عين حال کې دوی په مزارشريف کې په خپل کمپ کې خورا ډير خوښ دي. ډيرې الماني سرتيرې په افغانستان کې د خپل خدمت په موده کې يو افغان هم په سترګه نه ويني.

جرمني افسرانو جګړه په تخنيکي وسايلو کې په ماډلي ډوله زده کړي ده او يا د سرتيرو د انداخت په ډګرونو کې تمريني زده کړي ده. دوی د افغان لوی درستيز مشرتابه ته د جګړې لارښوونې په برخه کې مشورې ورکوي. د هندوکوښ په غرونو کې د الماني سرتيرو رسمي ماموريت لامل ډير څه کيداي شي. د افغانستان په اړه د المان مسيحې د موکرات او سوسيال دموکرات ګوندونو ټولې ورستي مقدماتي خبرو اترو پايله دا شوه، څو ۳۰۰ نور جرمني سرتيرې مزار شريف ته وليږي. دوی د هيواد د امنيت ښه کولو لپاره نه دي استولي شوي، بلکې دوی د جرمني پوځې مشاورينو او افسرانو امنيت لا نوره خوندي کولو لپاره ليږدولي شوي دي.

د جرمني په دې نوې ولسي جرګه کې د دولت د ماليو پيسو تر ټولو ډيره بيځايه خرچه د المان پر وسله وال پوځ مصرفيږي.

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

زموږ پرمختيايي مرستي ؟

جرمني د افغانستان د ټولنيز پرمختګ او بيارغوني چارو کې دريم ستر لوی مرسته کوونکي هيواد دی. د المان څخه په دې ورستيو لسو کلونو کې هيڅ کوم بل هيواد دومره ډيرې پيسې نه دي ترلاسه کړي، لکه افغانستان. پر دې مالي مرستو ډيرې ښې چارې تر سره شوي دي، څښتن ډير پلونه جوړ شول، کوهي وکيندل شول، ښوونځې ورغول شول، خو سره د دې ټولو ريکارډي مرستو او پيسو د دغې هيواد امنيت ټينګ او ډاډمن نشو.

ليکوال ليکي، بشري مرستي وسله وال کړکيچونه نشي حلولي. په افغانستان کې چيرته چې واټ يا سړک ختميږي، هلته بغاوت پيل ليږي. دا خبره لس کاله مخکې د امريکي وسله وال پوځ مشرتابه کړي وه. په ۲۰۱۸ کال کې بيا داسي ويل کيږي، ,,چير ته چې سړک پيل ليږي، هلته پاڅون پيل کيږي,, .

د ۲۰۰۲ کال راهيسې يوازې د امريکا متحده ايالاتو يو بيليون ډالر په افغانستان کې مصرف کړي دي. د هيواد په شمال کې د فيض اباد وړوکي ښار د المان له دولت څخه نږدې يو ميليارد يورو ترلاسه کړي دي. يو ميليارد يورو د ۵۰۰۰۰ وګړو لپاره مصرف شوې دي.

له افغانستانه ليکوال ليکي: موږ په دې باور يو، چې افغانان به ځانته راونيسو. يوې دقيقي تحقيقاتي سروې يا څيړنې د افغانستان په ولاياتو کې د لويديځ د بيارغوني مرستو اغيز پلټلي دي، دا څيړنه ښيې، کومې مرستي چې د افغانستان په ولاياتو کې تر سره شوې دی، له دې مرستو څخه افغان حکومت دومره ګټه نه ده اخيستلي، لکه څومره چې طالبانو ترينه ګټې اخيستلي ده.

خو سربيره پر دې په برلين کې بيا هم هيڅ څوک بل ډول فکر نه کوي، له ډيرو کلونو راهيسې د افغانستان او جرمني د بنسټيزو کړښو سياست د بهرني سياست يو شمير جرمني سياستوال ټاکي. دوی تر اوسه همداسې پر خپل سياست ولاړ پاتې شوې دي.

د ډيری الماني کارپوهانو د المان فدرالي جمهوريت څخه دا غوښتنه لري، څو خپلې نغدې پيسې يا مرستې بندې کړئ، د نورو بسپنه ورکونکو هيوادونو په څېر خپلې پرمختيايي چارې د خپلواکو سرچينو او موسسو له لور ورته بيا کتنه وکړئ او خپلې مرستې تر کنټرول لاندې ونيسئ. د دې لپاره اوس تر ټولو ښه لوړ وخت دی.

د بېلګې په ډول، په همدې کال کې د جرمني Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit د ګډو همکاري نړيواله ټولنه (جي اي ځيد) په افغانستان کې يوې پروژې ته سل مليونه يورو تخصيص ورکړی دی، ځايي الماني پرسونل د امنيت د نشتون له کبله نه شی کولي، چې دا پيسې مصرف کړي. له دې هيواده د جرمني پوځيانو د وتلو په څير د جرمني د ګډوهمکاري نړيواله ټولنه (جي اي ځيد) پرسونل هم تقريبا ټول وتلي دی او يا خپل پرسونل په جدي توګه څښتن ډير لږ کړي دی. د دوی پرسونل د څو لنډو ورځو لپاره په کابل کې پاتې کيږي. بيا بير ته ډوبی ته الوتنه کوي. په کابل کې د نا امنی له وجې يوازې يو بيس يا دفتر د جګو جګو ديوالونو تر شا پاتې دی. د جرمني د ګډو همکاري نړيواله ټولنه (جي اي ځيد) د افغانانو يوه ډيره ښه مسلکي او تجربکاره متخصصه ډله لري. دوی په خپله بنده کلاه کې ناست دي، خو په ډيره سختی سره کنټرول ليږي. دوی د لرې څخه د,, ريموټ کنټرول د مديريت,, له لارې کنټرول کيږي. په بيرنيو حالاتو کې له دې جادويي فورمول څخه کار اخيستل کيږي.

پوښتنه دا ده ، آيا موږ لا په دې هيواد کې مرسته کولای شو ؟

دا پوښتنه لا له ډير وخته د تړل شويو دروازو تر شا په کانفرانسونو کې د سترو مرستندويه ټولنو په کوړيږو کې ګرځې را ګرځي. خو دوی نه غواړي يا زړه نا زړه دي، دوی د وېرې له وجهې د دې پوښتني په اړه په عامه توګه عامه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

بحث یا خبري اتري نه کوي. دوی د خپل شهرت د لاسه ورکولو څخه ویرې لري او د مرستو ورکونکو یا د ډونرانو د مرستو بندیدو د ویرې له امله چپه خوله دي، څو کومه تیروتنه ترینه تر سره نشي.

په ریښتینه مانا زموږ څخه د بشري مرستو سمه مانا ورکه شوي ده. شناند لیکي، څه چي هلته په سیمه کي پیښیږي، د سیمه ییزو کارپوهانو په اند، زموږ پوهه او زموږ پیسي پر کومو بدلونو باندي په ریښتیني توګه اغیز شیندي. هغه په داسي هیواد لکه افغانستان کي چي ډیر ژر په زهرو بدلیدلي شي .په دي هیواد کي د بشري مرستو ناسمه کارونه، ډیر کړکیچونه یي لا نوره تاوده کړي او ډیر نور کړکیچونه زیږولي هم دي، چي له امله یي ډیرو مرستندویه سازمانونو خپل کارکونکي له سیمي ایستلي دي. د خلکو سره د دوی شخصي اړیکي لمنځه تللي دي، ورسره په خلکو کي خپل اعتبار بایللي، دا هغه څه دي چي د باور او اړیکو ګټلو کار له کبله ترلاسه کیږي.

په افغانستان کي د بحران یو معمولي بهرنی کارکونکي څلورویشت ساعته کار کوی. دغه ځوان کارکونکی له ځایي خلکو سره هیڅ ډول اړیکي نه لري. دی حداکثر یو کال په خپله دنده کي پاتي کیږي.له دی موی څخه اټکل شیږ میاشتي په هیواد کي دننه تیروي. ده هیڅ کومه ځایي ژبه زده نه وي، دی ډیر لږ کولتوري تجربه یا پوهه له ځانه سره لري. دغه بهرني کارکونکي په توله مانا سیمه ییز کارکونکو ته اړ وي. کله چي سیمه ییز کارکونکي د یو بل تیروتني او فساد پټوي، دی هیڅ چانس نه لري، چي ځیني سیاسي غلطي پریکړي او مالي فساد و پیژني او رابرسیره کړي. د بحران مرسته کونکي کارګر خپل ټول پام د خپل دفتر بیوروکراتیک اړخونو ته اړولي وي. دی اجازه نه لري له خپل خوندي استوګنځای څخه ووځي. د ده هر ګام او هر مرحله تل د جرمني څخه د امنیتي قواعدو او مقراتو له لوري تنظیمیږي.

ایا موږ په ریښتیا په افغانستان کي ختم شوي یو ؟

دا متن یا دغه لیکنه د تسلیمیدو اعترافونه یا غوښتنه نه ده، بلکي معکوس. دا هم ناشوني ده، څو افغانستان د یو چګ دیوال له لاري ګنګل شي او په انزوا کي ایسار وساتل شي. موږ غواړو د دي مخنوي وکړو، څو د دې هیواد څخه لوږه بدمرغي او کرکه تر جرمني پوري راونه رسیږي یا ور ونه غورځول شي. ځکه د ننګرهار او نورستان په تنګو درو کي د سختدریځی نوي غورځنګونه را زرغونیږي.

ګاونډي هیواد پاکستان به خامخا د ګډوډیو بهیر ته ورګډیږي. د هندوکوښش په غرونو کي به بیا یو وخت د دووه سترو زبر ځواکونو ټکر رامنځ ته کیږي.

ایا موږ کولای شو د افغانستان د ستونزو مخنوي وکړو. دا ستونزي به ژر یا ورسته موږ ته راورسیږي. ولي دی ته خو د څرګندو پریکړو اړتیا شته، دلته د ډیرو پیسو خبره نه ده. خبره د ګوابښونو پیژندل او پوهاوي په اړه ده. کله چي په افغانستان کي د جرمني وسله وال پوځ ته واقعاً د خپل محدود ظرفیت او وړتیاوو په بنسټ اړتیا وي، باید له افغنستانه ووځي. دی هیواد ته باید یوازي هغه سرتیري ولیږدول شي، چي د جګړي اجازه لري او جګړه کولي شي.

موږ د خوندیتوب نوی پوهاوي ته اړتیا لرو او موږ لا نور جدیت ته اړتیا لرو

موږ په تیرو وختونو کي دا تصور درلو، چي دا هیواد به په بنستیزه توګه ودان کړو، مو په دې سم نه پوهیږو، مخکي تر دې چي موږ افغانستان بدل کړو، د دي اړتیا ده چي لومړي باید بدلون موږ په خپل ځان کي ترسره کړو.

زموږ د مرستو سیستیم د نویو راتوکیدونکي کړکیچنو سره باید ځان سمبال کړي. نه یوازې په افغانستان کي بلکي د نړۍ نورو برخو په کړکیچونو هم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

ډیر لږو سترو دولتي مرستندویه ټولنو لکه په افغانستان کې د جرمني د ګډو همکاري نړیواله ټولنه (جي اي ځید) د خپل سیاسي ماموریت په سیمو کې د کړکیچونو او نامنی له کبله مرستي سم نشي بشپړولي. دوه کاله مخکې د جرمني د ګدو همکاري نړیواله ټولنه (جي اي ځید) د سودان هیواد له سویلي برخي څخه ووتله، ځکه دغه هیواد ځښت ډیر ورته ناامنه ګرځیدلي وه. موږ نوی امنیتي پوهاوي ته اړتیا لرو. که موږ په افغانستان کې ځیني شیانو ته بدلون ورکول غواړو، بیا موږ اجازه نه لرو چې وډار شو. ان که زموږ همکاران یرغمل ونیول کیږي او یا ووژل کیږي. نور هیوادونه ډیر پیاوړي غبرګونونه ښيي. جرمنان په طالبانو او داعیشایانو کې پیژندل شوي خلک دي. دوی پوهیږي چې جرمنان د جګړه بیز تاوتریخوالي څخه ډیر لري واټن لټوي. په مزار شریف کې د جرمني پر جنرال قونسلګري تر بریده ورسته قونسلګري وتړل شوه، کله چې د جرمني د ګډو همکاري نړیواله ټولني یو کارکونکي یرغمل ونیول شو، دوی په کابل کې خپل ټول دفترونه او میلمستونونه وتړل. د جرمني پر تاسیساتو باندې برید فوري یو سیاسي غبرګون له ځانه سره مل لري. د طالبانو په سترګه کې دا یوه ډیره ښه لاسته راوانه ده او ښه موخه تر لاسه کول دي. کله چې موږ د یوې ټولني په حیث دا ډول قرباني ته چمتو نه یو، موږ اجازه نه لرو، چې په افغانستان کې څه ولټوو یا ولاړ شو.

موږ د شرایطو سره سم نویو جوړښتونو ته اړتیا لرو. موږ په جرمني کې د مرستندویانو نوي نسل ته او نویو روزنیزو مرکزونو اړتیا لرو. دوی ته نه یوازې د پرمختیایي پالیسي لارښووني وشي، بلکې دوی د ژبني او کولتوري اړخ سره بلدتیا هم ولري. ختیځ المان دا ډول چارې لا پخوا تر سره کړی دي

د افغانستان په اړه د جرمني فدرالي جمهوریت پلانونه په پراخه کچه ناکام شوي دي. موږ ژر تر ژره نویو پلانونو ته اړتیا لرو، خو لومړی باید موږ دا جرَئت ولرو، څو پر خپله ناکامي اعتراف وکړو.

پای



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ